خوشحال آصفي ۲۰۱۷/۰۴/۰۴

«تشويق» د کار ګمارنې لپاره اغېزمن ګام

په داسې حال کې چې دمګړۍ ګڼ شمېر افغان ځوانان له بېکارۍ او د دندو او کار له نشتوالي شکايت کوي؛ اوس افغان حکومت د کار ګمارنې يوه نوې کړکۍ پرانيستې چې موخه يې پر حکومتي دندو د ځوانو کارپوهانو ګومارل دي. دغه کړکۍ هڅونه نومېږي چې په افغانستان کې د کار ګومارنې نوی پروګرام دی.

دغه پروګرام د افغان ولسمشر محمد اشرف غني د سپارښتنو پر بنسټ د چارو د لا ښه پرمختک په منظور د ولس او دولت تر منځ د اړيکو د ټينګولو او پراختيا په خاطر لازمي آسنتياوي برابروي. په آنلاين توګه د کار موندنې لپاره ګټور او اغېزمن پروګرام دی. غوره ېلګې يې د کارموندنې او شکاياتو د عرض پانوډ آنلاين فورمونو خپرول دي. دا يو داسې پروګرام دی چې د هرې کچې زده کړې لرونکي شخص لپاره اړونده دنده پيدا کوي. که يو ځوک خپلو تحصيلي سندونو ته په پام سره ځان د کار وړ بولی، کولائ شئ خپله لنډه پېژندنه، په آنلاين توګه د کارموندنې فورم په ډکولو سره دغې پروګرام ته وليږي او د «تشويق» پروګرام اداره بيا د نومورې شخص د تحصيلي اسنادو په ارزولو سره، په اړوند پوسټ له ازموينې وروسته ګماري.

د تشويق پروګرام بله ښېګڼه دا ده چې که يو ځوک د معيار او قانون په رنا کې ځان د يو پوسټ حقدار بولي او يا هم کوم شکايت لري؛ کولی شي چې په انلاين توګه د فورم شکايت فورم ډکولو له لارې د تشويق اداره په جريان کې واچوي او خپل شکايت ثبت کړي. د تشويق پروګرام اداره بيا ياد شکايت اروزي او د نومورې شخص شکايت ته رسيدګي کوي. يعنې د دې اړتيا نشته چې يو ځوک له چا د شکايت کولو لپاره نومورې اداري ته ورشي او بيا له ځو مراحلو طی کولو وروسته په ليکلي بڼه بڼه خپل شکايت ثبت کړي. دلته شکايت کوونکی کولی شي خپل شکايت په انلاين توګه پرته له کومې واسطې او خنډ څخه تر مسولو چارواکو وروسوي.

که څه هم د ملي يووالي حکومت د خپلو ټاکنيزو کمپاينونو په وعدو کې چې د کار د پيداکولو او اشتغال په اړه به يې له ولس سره کولې؛ پاتې راغلی خو د تشويق له پروګرام سره به په دندو د اشتغال لپاره ښه فرصتونه او آسانتياوې برابرې شي. دغه پروګرام هغو هيوادوالو په ځانګړې توګه زده کړې ځوانانو ته چې باور لري چې حکومت کې دندو ته رسېدنه يا د پېژندګلوی او يا هم د پيسو بدل کې کېږي؛ فرصت په لاس ورکوي چې خپل حق په اسانۍ ترلاسه او د خپلې وړتيا مطابق په دنده وګمارل شي.

دغه د تشويق پروګرام د ښې حکومتولۍ په لور يو اړين او ارزښتناک ګام دی. د غه پروګرام د ګمارنې يوه شفافه او رنړه پروسه ده چې هر ځوک د خپلې وړتيا او پوهې پراساس د آزموينې له اخيستو وروسته دولتي پوستونو ته ورپېژندل کيږي او ډيرې هغه پياوړي ځوانان په دې اداره کې کار کوي چې د هېواد دننه او بهر څخه ماسټري او دوکتورا په بيلابيلو رشتو کې لري. دغه پروګرام د ښې حکومتولۍ لپاره يو اړين او د ستايلو وړ ګام دی. زه چې په دغه اداره کې دا تکړه ځوانان وينم زما راتلونکې ته هيله مندي زياتيږي او د ښې حکومتولۍ لپاره زه دا يو لوی ګام بولم. زه د ولسمشر دا ګام ستايم زما وړاندېز دا دی چې ټولې دولتي اداري بايد د دغې اداري له ازموينې او آرزونې تير شي تر څو په افغانستان کې حق حقدار ته ورسېږي. زه خو دا وايم چې آن د واليانو او سفيرانو په کچه باندې بايد له همدغې اداري نه معرفي شي.

له بده مرغه د افغانستان ډيرې سفيران، واليان او آن ځينې وزيران مسلکي کسان ندي چې د مسلک او تخصص له مخې معرفي شوي ندي. په داسې حال کې چې بايد زمونږ واليان، سفيران او همدارنګه وزيران ټول بايد ماسټران او ډاکتران وي او تر څنګ يې کاري پلان ولري، د خپل ولايت، سفارت او وزارت او يا رياست لپاره برنامه ولري، د افغانستان په رسمي ژبو باندې او کم تر کمه په يوه بهرنۍ ژبه بشپړ د خبرو کولو وړتيا ولري، په اداري قوانينو بايد پوه وي او د کار فزيکي وړتيا ولري څو بدلون راوړي او ولس هم دا احساس کړي چې اوس د متخصصينو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

حکومت لرو یا اوس د اداری فساد سره مبارزه کیدلی شي او یا هم اوس عدالت ټینګیږي، او بلاخره ولس مو باید په دې ډاډه شي چې اوس کار اهل کار ته سپارل کیږي.

اوس چې ځوک ځان ته په ریښتیا هم پوه، ماسټر، دوکتور او په کار پوه وایي نو دا ګز او دا میدان، رادې شي او د تشویق پروګرام په آزاده سیالۍ کې دې آزموینه ورکړي او خپله وړتیا دې ثابته کړي. همدارنګه که ځوک د هیواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره کومه ښه طرحه لري، یو پیاوړی او ښه پلان لري نو بیا هم دا ګز دا میدان. او که ځوک داسې پیدا کیږي چې له کومې اداري یا شخص نه شکایت لري نو بیا هم دا ګز دا میدان، رادې شي او په انلاین توګه دې د تشویق پروګرام له لارې خپله شکایت فورمه ډکه کړي، د تشویق پروګرام دروازې د ټولو هیوادوالو پر مخ خلاصې دي او دا یوه پاکه، شفافه او له هر ډول واسطې خلاصه اداره ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ